

# خپل ماشوم وړکتون تولګي ته چمتو کړئ!



✔ د فزيکي معاينې، د ښوونځي د اړينو واکسينو او ښوونځي ته د ننوتلو روغتيايي فورمي ډکولو لپاره د خپل ماشوم د روغتيايي پاملرنې له **چمتو کوونکي** سره [لیدڅمنه تنظیم کړئ.]

## د ښوونځي لپاره په اړينو معافيت واکسينو کې* لاندې هغه شامل دي:



- 4 ډوزونه **DTaP**
- 4 ډوزونه **پوليو**
- 2 ډوزونه **هپاتيتس A**
- 3 ډوزونه **هپاتيتس B**
- 2 ډوزونه **MMR**
- 2 ډوزونه **واريسيلا**



✔ په ښوونځي کې د نوليکنې د اړتياوو لپاره د خپل ماشوم **د زیږون اصلي سند** او **پتې ثبوت** ومومئ.



✔ **د هر ډول اضافي اړتياو په تړاو د خپل ماشوم ښوونځی وګورئ.**
د نوملیکنې د اړتیاوو په اړه معلومات د ویرجینیا د پوهنې څانګې (Virginia Department of Education) په ویبپاڼه کې موندل کېدی شي:
**https://www.doe.virginia.gov/parents-students/for-parents/enrollment-in-virginia-public-schools**

VDH په لاندې لینک کې لا نور معلومات لري چې څو مو له ماشوم سره مرسته وکړي چې ښوونځي کې یو سالم پیل وکړي **https://www.vdh.virginia.gov/backtoschool/**

**په دغه ویب پاڼه کې په معلوماتو کې لاندې موارد شاملیږي:**

- یو **ښوونځي ته د بېرته ستنېدو چیک لیست** چې له کورنیو سره مرسته کوي چې تنظیم شوي واوسي
- ستاسو د ماشوم لپاره د وړیا واکسین ترلاسه کولو ځایونه
- ستاسو د **واکسینو د سوابقو یوه کاپي** او **د زیږون تصدیق ترلاسه کول**

***په مهربانۍ سره د ښوونځي د واکسينو د اړتياوو او استثناوو په هکله د لا نورو پوهېدو لپاره د VDH لاندې ويب پاڼه وګورئ https://www.vdh.virginia.gov/immunization/requirements/***

VDH VIRGINIA DEPARTMENT OF HEALTH